تل افغان

www.talafghan.com

خپلواکه ، ناپېيلې ، ټولنيزه او فرهنګي وېب پاڼه

بســـمل

# دکنړ ولايت دعام وژنې په اړوند دجرمن مېشتو افغانانو غبرګون



په پورتني تصوير کې دبايرن آيالت دپارلمان ماڼۍ وينئ

دتېرو دوو اونيو په لړکې په مظلوموکنړيانوظالمانه بمورۍ اوورسره جوخت په جلال آبادښارکې دکابل بانک پېښه ددې سبب شوه چې دهېواد په دننه او بهر کې دافغانانو غوسه نوره هم را وپاروي .

موږ بهرمېشتې افغانان که جسماً هرڅومره له خپل ګران پلرني ټاټوبي څخه لرې يو خو روحاً هره شېبه له هېواداو هېوادوالو سره مله يو .

زموږ هېواد اوهېوادوال په موږ بهر مېشتو افغانانو دا حق لري چې دهر راز ناخوالو په اړوند دتل په شان خپل غبرګون وښيوله همدې کبله مويوځل بيا په جرمني کې له پردېسو افغانانو سره دګډې مشورې له مخې پرون ورځ دبايرن آيالت د پارلمان په ماڼۍ کې دخپلو بېګناهو افغانانو غږ اوچت کړ.

دبايرن آيالت دپارلمان په ماڼۍ کې پرون د ښځونړيوالې ورځې سليزه يا پېړۍ لمانځله کېده د يادې لمانځنې

نوښت دجرمني په بايرن آيالت کې د شنه ګوند لخوا شوی و په دې غونډه کې نه يوازې د بايرن آيالت له ګوټ ګوټ څخه په سلګونو ګډونوالو برخه لرله بلکې له اطريش څخه هم يو شمېر مېلمانه راغلي وو.

دنورو بهرنيانو ترڅنګ زموږ کولتوري ټولنې هم درسمي بلنليک ويار درلود پاته دې نه وي چې دتېرې فبروري مياشتې په څلورمه او پنځمه نېټه په مونشن ښارکې د ناټوغړوهېوادونو د امنيتي کنفرانس په ضديولوی او برياليي لاريون کې دشنه ګوندپه ګډون دنوي ۹۰ په شاوخواکې دنوروسياسي اوکولتوري ټولنوغړود افغانانو دکړاو ختمېدوپه اړوندله ناټو څخه جدي غوښتنې وکړې ددې ترڅنګ يې زموږ افغانانو ډېر زيات درناوی وکړ زموږ شعارونواوبصري تبلغاتي پاڼوته يې دخپلوترانسپورټي وسايطو لپاسه دنصب اجازه هم راکړه که تاسو دهغه لاريون په اړوند زموږ مصوير اواورد رپوټ نه وي لوستی کولای شئ ددې رپوټ په وروستۍ برخه کې دنښتر لينک کښېباسئ اويا يې درواخلئ :

راګرزم پرونۍ غونډې ته چې له پلان سره سم دمابنام په اوو ۷ بجو پیل شوه دا هم باید زیاته کړم چې دمابنام په شپږنیمو بجو دومره خلګ راورسېدل چې یوه چوکۍ هم نه وه وزګاره همدا وخت موږ غنیمت وګاڼه په ناستو او ولاړو کسانو مو دا لاندې مصورې پاڼې چې په جرمني او پښتو ژبو لیکل شوې وې ووېشلې:



**Amerikanische Soldaten lassen ihre gefährlichen Hunde bei der Hausdurchsuchung auf wehrlose Frauen und Kinder los. Auf der einen Seite rufen die Amerikaner nach mehr Rechte für Frauen aber auf der anderen Seite lassen sie die Frauen durch ihre gefährlichen Hunde beißen.**

امریکایان له یوې خوا دښځو دحقونو نارې وهي خوله بلې خوا دتالاشي په مهال امریکایي سرتیري ښځې او ماشومان په خطرناکو سپیو داړي



**In den letzen zwei Wochen sind in der Provinz Kunar über 22 Frauen und über 55 Kinder allein durch die Bombardierung der US-Amerikanischen Kampfflugzeuge gestorben**

په تېرو دوواونیوکې ۲۲ مېرمنې اوله ۵۵ څخه زیات ماشومان یوازې دکنړ په ولایت کې دامریکایي جنګي الوتکو په بمباریو کې وژل شوي دي



**Amerikaner töten auf der einen Seite unschuldige Paschtunen unter dem Vorwand der Taliban und auf der anderen Seite unterstützt die Regierung der USA weiterhin geheim und offen die Taliban**

امریکایان له یوې خوا دطالب په پلمه دبېګناهوپښتنوعام وژنې ته دوام ورکوي او له بلې خوا په پټه اوښکاره طالبان تمویلوي

عزتمنو خویندو او ورونو !

داچې دښځونړیوالې ورځې سلیزه لمانځله کېده دښځو په زغم او لیاقت خبرې کېدې نودسپیوپه وسیله دافغان مېرمنواوماشومانودارلو دپرونۍ غونډې په ګډونوالو خورا منفي اثر وغورځاوه.

دپورتنیو تصویرونو په لیدلوسره ډېرو ناستواو ولاړوکسانوخپل جدي غبرګون وښود چا به سرونه ښورول چا به یواوبل ته په عجیب ډول کتل داسې کسان مې هم ولیدل چې له سترګو څخه یې دعاطفې اوښکې را بهېدې دوی دا وعده هم وکړه چې داپاڼې به په لوړ تیراژ چاپوي اوپخپلو سیموکې به یې ویشي ترڅو دانورنا خبره هم پرې خبر شي.

دغونډې پوره جریان په لاندې ډول و:

لکه چې مخکې مې ولیکل غونډه دمابنام په اوو ۷ بجو پیل شوه دغونډې ویانده مېرمن شتهام نومېده په لمړۍ برخه کې یې خووینا والې مېرمنې په خپل وار راوبللې چې هرې یوې د ښځو په اړوند اړینې مقالې ګډونوالو ته واورولې.

له مقالو څخه وروسته مېرمن شتهام یو ګردی مېز برابر کړی و چې څلورو مېرمنو یو له بل سره د ښځودوړتیا او ستونځو په اړوند په زړه پورې خبرې وکړې مېرمن شتهام به داسې پوښتنې ګردي مېز ته وړاندې کولې چې ځوابونو ته به یې دګډونوالو تلوسه ګړندۍ کوله.

دا ګردی مېز ډېر بریالی و له اطریش څخه راغلې مېلمنه مېرمن رایمر پکې ښه وځلېده.



پورتنی تصویر دمېرمن شتهام دی



په پورتني تصوير کې ګردی مېز ليدل کيږي



دا تصویر دغونډې یوه څنډه ښیي



په دې تصویر کې دغونډې هغه برخه وینئ چې افغان مېرمنې پکې ناستې
او دکنړ دبمباوریو قاب شوي تصویرونه په لاس لري

قدرمنولوستونکو !

له ګردي مېز څخه وروسته غونډه دوهم پړاو ته ځي له لمړني تالار څخه ګډونوال بهرلوی دهلیز ته راوزي هلته له ګردو ګردو مېزونو څخه راتاواو په ولاړې ګروپي روغبړ پیل کیږي.

ترکومه چې ما لیدل او له ډېرو کسانو سره مې خبرې وکړې هغوی دافغانستان په اړوند ډېره خواشیني ښوده.

کله چې ما دبېلګې په ډول دجګړې ځپلو سیمو لکه کندهار، هلمند، پکتیکا، لویې پکتیا، خوست، ارزګان، زابل ، وردګو اونورو سیمو تصویرونه وروښودل دوی هک پک پاتې شول وېل دا دیموکراسي ددې لپاره وه ؟

کله مې چې دننګرهار په هسکه مېنه کې دیو واده بمورې وروښوده سخت پرې خوابدي شول ماوېل دالس کاله کیږي چې زموږ عام وژنه دوام لري .

په افغانستان کې یو بام او دوه هواوې دي په هرات او مزارشریف کې یو څو کسان دسوداګرو په نوم په کال کې زرګونوکسانو ته ډلیز ودونه راپورته کوي چې هر واده په کال کې یواولادزېږوي خوپه نوروسیموکې بیا سوله ساتي ؟؟ زموږ د بېګناهوخویندو او وروڼو ګلالي ماشومان په ظالمانه بموریوکې وژني چې وروستۍ بېلګه یې دمظلومو کنړي ماشومانو عام وژنه په دې لاندې تصویر کې لیدلای شئ



قاتل پترویس داهم وایي چې داماشومان خوېې خپلومیندو او پلرونوزموږ د بدنامي لپاره سوځولي دي تر څو زموږ نړیوال پرستېژ کمزوری کړي.

د تروریزم په پلمه راغلي ترورستان او اشغالګر به هلته پرېږدو را به شو دې ته چې پرونۍ غونډه په خورا برم او عزت سره پیل اوختمه شوه زموږ افغانانو له ګډون څخه ګډونوالوپوره رضایت څرګندکړ

مېرمن شتهام زموږ د ېرزيات درناوی وکړ په اخير کې يې له ما او اغلې نسيمې ابراهيمي خورسره دالاندې تصوير هم واخيست



مېرمن شتهام دلوړ قد ، ښکلې غږاو د ېر ښه کرکترلرونکې ښځه ده

**زموږجدي هيله:**

موږ باېرن مېشتې افغانان په اروپااو ټوله نړۍ کې له خپلو پرديسوافغان خويندواوورونوڅخه جدي هيله کوو په هر ملک کې چې مېشت وي هلته دې د هغه هېواد په سياسي اوټولنيزو مجلسونو کې برخه واخلي، د خپل ولس اوهېواددردونه دې نړيوالو ته ورسوي ګوندې په نهايت کې دازمينه برابره شي چې حق حقدارته ورسيږي.

موږ بايد دعدم تشدد لار خپله او دخپل حق غوښتنه دبيان له لارې وکړودباچا خان په لاربرابرقدم کښېږدو ، لکه څنګه مو چې ثابته کړې ده همداسې بايد بياهم نړيوالو ته وښيو چې له موږ سره ظلم کيږي، زموږ قام وژنه روانه ده له افغانستان څخه يې جنګې لابراتوار جوړ کړی هم موږ پکې سوځوي او هم زموږ تاريخ او وياړونه.

**منننـــه:**

د جرمني له ګوټ ګوټ څخه په تېره بيا په کلن ښارکې دکنړ ځوانانو دکولتوري ټولنې ټولنې له غړو څخه دزړه له تله مننه کوو چې زموږ دپروني نوښت ملاتړ يې کړې زه باور لرم چې دالړۍ به دوام ومومي اوبايدومومي ترڅو دا ناخوالې له مينځه وبسواوياخوپه دې دول ملې پاڅون را پورته کړو چې مسؤليت به يې بيا په ځينو نړيوالووي .

په کونړ کې د امريکايانو وروستی جنايت په لاندې لينک کې ليدلای شئ:

http://www.youtube.com/v/gLX890Xh1ZY

دناټوغړو هېوادونو ضد لاريون په لاندې لينک کې لوستلای او ليدلای شئ:
http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/14839

په افغانستان کې دامريکا د دايمي اډو په اړوندزما نظر او داشغالګرو لخوا عاموژنې مې دآزادي راديو په خپرونو کې هم غندلې دي هيله من يم چې افغان وېبپاڼې چلوونکې زما خبرې تاسو ته خپرې کړي.

**سرلوړی او آزاد دې وي افغان ولس**